# خبرونه ورځپانه - پېښور

habaroona Wrazpanna Newspaper Nachrichten Peshawar

## د پښتنو ټولنيز ولسوليز ګوند PSDP او د ګوند د مشر ډاکتر کبير ستوري ليکنې


ورځپانه

DAILY KHABROONA PESHAWAR - PAKISTAN

چیف ایډیټر سهیل شمشاد

ایډیټر محمد اشرف دار

پېښور پاکستان

خبرونه

2571251 2571253

چیف ایډیټر: پبلشرسهیل شمشاد ،ایډیټر محمد اشرف دار پرنټر،شمشاد احمد دپېښور ارټ پریس 5FAسمال انډسټریل اسټیټ کوهاټ روډ پېښور نه چاپ کړو او دورځپاڼې خبرونه دفترنشترآباد نه ئې خپور کړو

E subh@lsb.comsats.net,pkph2571251-2571253-Fax;2566086

اسلام اباد افس پته: ۱۰ دی‌شان پلازه فضل حق روډ بلیوایریا Ph:287648-9 Fax:2873354

مردان بیوروافس پته : اشرف پلازه نزدې میرافضل خان بازار : PH:722804

ایبټ اباد بیوروافس پته: مدینه پلازه نزدې نیشنل بینک منډیان PH: 0992-382837

جمعته المبارك ۲۵صفرالمعظم ۱۴۲۵ه ۱۶ اپریل ۲۰۰۴ء


### دپښتنو دقامی وحدت دبیا بشپړتیا نظریه

دپښتنو دقامی وحدت دبیا بشپړتیا دنظریې مهندس باچاخان (۱۹۸۸-۱۸۹۰) دی. باچاخان دپښتنو دقامی وحدت دبیا بشپړتیا دپاره د سولې (عدم تشدد) لاره غوره کړه او خپله مبارزه ئې دسولې دخوزښت (Peace Moment) په بڼه (شکل، څهره) کښې په (۱۹۲۹) کال کښې پیل کړه چې د "خدائي خدمتګارو دتحریك" په نامه یادیده چې په پښتنو کښې ئې ستره بیداری راوسته، خو مونږ د باچاخان دسولې دخوزښت په هلکه نه ګړېږو بلکې ددې خوځښت (تحریك) مخالف اړخ ته ځلینده کتنه کوو. دپښتنو دقامی وحدت دبیا بشپړتیا ښکاره دښمن پیرنګی ؤ چې پښتانه ئې ویشلی ؤ او پټ دښمن ئې دظاهرشاه باچاهی نظام ؤ ددې خبرې ثبوت زیات څه ته ضرورت نه لری. یوازې دظاهرشاه لنډې پیژندګلوۍ (بیوګرافۍ) ته لنډه نظر اوچول په کار دی ظاهر شاه په ۱۹۱۴ کال کښې پیداشوی او په ۱۹۳۳ کال کښې باچا شوی ۴۰ کاله باچاهی ئې کړې ده او په ۱۳۷۳ کال کښې له باچاهۍ څخه لرې شو چې اوس د ایټالی په روم کښې اوسیږی. ظاهر شاه نسلې پښتون ؤ خو دخپلې ژبې او کلتور څخه بالکل پردې شوې ؤ په پښتو هیڅ نه پوهیده او په فارسی غږیده ده پخپله ۴۰ کاله باچاهۍ کښې ددې هڅه هم نه ده کړې چې څو ټکی پښتو یاده ګړی حال دا چې په افغانستان

کښې دټولو میشته لږه کیو قومونو (ازبکو، ترکمنو، تاجکو، هزاره، او نورو) له مجموعې څخه پښتانه زیات ؤ که دظاهرشاه دباچاهۍ وخت په پام کښې ونیسو نو پدغه وخت کښې په نړۍ کښې ستر بدلونونه راغلی دی چې دپښتنو دقامی وحدت په بشپړتیا بې اغیزې نه ؤ دویمه نړۍ واله جګړه پای ته ورسیده دملګرو ملتونو موسسه (اقوام متحده) جوړه شوه انګلیسان دهند دنیمې وچې څخه وتلو ته مجبوره شوه. هند او دپاکستان اسلامی جمهوریت په ۱۹۴۷ کال کښې په اسلامی جمهوریت کښې پاتې شو. سمه لار خو دا وه چې افغانستان او دپاکستان اسلامی جمهوریت یو بل ته نزدې شوی وی چې دواړه اسلامی هیوادونه ؤ او ډیر څه نور ئې هم سره شریك ؤ خو ظاهر شاه یو دوه مخی سیاست پیل کړ له یوې خوا ئې دپښتنو ویش ومانه او په پاکستان کښې ئې سفارت او قونصلګری جوړه کړه او له بلې خوا ئې ورسره دښمنی راوانسته او ویل به ئې چې په پاکستان کښې د ډیره پښتنو یعنې یوې برخې پښتنو حقوق

**ډاکتر کبیرستوری**

غواړو چې د پښتونستان په نامه ځان ته ملك جوړ کړی او افغانستان نه بیل وی په دې توګه ئې دا پوښتنه چې دکورنی سیاست پورې ئې اړه لرله دبهرنی سیاست برخه وګرځوله او داساسی قانون یا ائین دبهرنی سیاست په برخه کښې ئې ولیکل دپاکستان داسلامی جمهوریت سره دښمنی او دپښتونستان لفظ نه یوازې دپښتنو دویش دټینګولو او دپښتنو دقامی وحدت په ضد ؤ بلکې په افغانستان کښې دپښتنو د ټکولو وسیله هم وه په قام پرسته پښتنو به تورونه لګول کیده چې دپاکستان سره لاس لری او پاکستانی دی او په دې نامه به ځورول کیده. حتی پخپله پښتو ژبه به دپېښور دراډیو د اوریدلو څخه بنده وه زما په یاد دی چې مونږ دکونړ په صوبه کښې چې په هغه وخت کښې پکښې راډیو ګانې ډیرې کمې هم وې دپېښور دراډیو دپښتو دخپرونې داوریدلو اجازه نه لرله او پټه به مو اوریدله ظاهرشاه په ځای د دې چې دپاکستان سره ئې دوستی ټینګه کړې وی چې دپښتنو (افغانانو) دیوالی په لور ګام وفارس یا ایران سره خپله دوستی دومره پخه کړه چې خپل دربار ئې دفارسیانو نماینده ګی وګرځوله او د ننني ښکیلاك بڼه ئې غوره کړه ملك ازاد ؤ خو اولس ئې محکوم ؤ. دشوروی اتحاد او بلاکونو له ړنګیدو وروسته په نړۍ کښې دویشل شوو قامونو دبیا یووالی لپاره شرائط بڼه شوی دی یو شمیر قامونو خپل قامی وحدت بیرته راوستو او ځینې نور قامی

پاتې نمبر ۱ صفحه ۴

# دپښتو دقامي وحدت دبيا بشپړتيا نظريه

پاتې برخه

ډاکټر کبير ستوری

پيښور ورځپاڼه خبرونه صفحه (۴) ۱۶ اپريل ۲۰۰۴

وحدت ته دبيرته رسيدلو په هڅه کښې دی همدا خبره دپښتونخوا لپاره اعتبار لری چې نور دنړۍ والو قامی وحدت په لاره کښې کوم نړۍ وال خنډونه شته دی له بلې خوا د تخنيکی ودې او ګلوباليزيشن (Globalization) په لړ کښې نړۍ دخپلو اقتصادی ګټو له مخې په کوچنيو او غټو وحدتونو ويشل کيږی .نه يوازې دپښتنو دقامی وحدت ښکاره او پټ دښمنان له مينځه تللی بلکې

نړۍ وال خنډونه هم هوار شوی او دپښتنو بيا يووالی په يوه غټ يا کوچنی چوکاټ کښې امکان لری خو دازمونږ څخه نوی ، پراخ او اوچت سوچ (اند ، فکر ) غواړی چې خپل سياست دمنطقې په سويه مخ په وړاندې بوزو په دې لړ کښې دحکومتونو او قامونو په مينځ کښې توپير پکار دی حکومتونه بدليږی قامونه پاتې کيږی ، دقامونو ترمينځ ښه ګاونډيتوب دسيمې دهوسائې او ابادی ښه ده ديوقام غښتلتوب او سرلوړی په دې کښې پرته نه ده چې په بل قام زور زياتې وکړی او حق ئې وخوری بلکې ددې قام په پسدواری (توليد) او

نوښتی (Creativity) څواك کښې ده چې نه يوازې دخپلې منطقې دقامونو (اولسونو) بلکې د ټول انسانيت په خدمت کښې ئې واچوی هر څومره چې حکومتونه دقامونو دهيلو او ارزښتونو نمائندګی کوی او قامی يا اولسی ارزښتونه سرکاری ارزښتونه ګڼی هغومره دپرمختګ لړۍ ګړندۍ مخ په وړاندې درومی . پښتانه له پيړيو راسې خپل ټاټوبی او وطن چې پيدايښتی (قدرتی ، فطری) وحدت دی پښتونخوا وائی او پښتونخوا دپښتنو دټاټوبی اولسی نوم دی حکومتونو ته هم پکار دی چې ددې خاورې سرکاری نوم هم پښتونخوا کړی که چيرته دخپلو اولسونو (قامونو) نمائندګی کوی .

**ديوالی فلسفه :** - ديوالی يا وحدت دفلسفې بنسټ په نزديوالی ولاړ دی که وګورو پښتانه په دوه هيوادونو پاکستان او افغانستان کښې اوسيږی نو د افغانستان او پاکستان ترمينځ نزديوالی او ګډ کار پکار دی داچې قامی يووالی ډير اړخونه

پاتې نمبر ۱ صفحه ۴

پاتې 1 دپښتو دقامي

لری نو په مختلفو برخو کښې دګډ کار ډيرې بڼې په اولسی او سرکاری سويه سره شته دې چې په اقتصادی ،سياسی ، کلتوری ، ادبی او دژوند په نورو برخو کښې مينځ ته راشی . ترټولو مهم په اقتصادی او تجارتی برخه

کښې ګډ کار دتګ راتګ اسانتياوی او پښتنو ته د ډبل تابعت (شهريت ) ورکول دی هر څومره چې ددې دواړو هيوادونو ترمينځ دژوند په مختلفو برخو کښې جوړښتونه يو شانته کيږی هغومره دپښتنو دبيا يووالی لړۍ ګړندۍ کيږی او اسانتياوی مينځ ته راځی . دبيلګې په توګه که

دافغانستان او پاکستان دروزنې سيستم (نظام ) يو شانته وی نو بری ليکونه به ئې په دې دواړو هيوادونو کښې منل کيږی او په دواړو هيوادونو کښې به سړی دکار امکانات لری .

**اقتصادی اتحاد :-** په يوه سيمه ايز (منطقوی ) اقتصادی اتحاد کښې هم دپښتنو دبيا يووالی لړۍ غښتلې کيدلې شی داروپا د اتحاد په نمونه ديوه اقتصادی اتحاد لپاره شرايط برابر بريښی ځکه چې دتجارتی لار په نښتون کښې چې په پام کښې نيول شوې ده دترکمنستان څخه دافغانستان او پاکستان په سينه تيريږی ددې درې واړو هيوادونو مفادات (اقتصادی ګټې ) شريك شوی دی او دخپلو اقتصادی ګټو دژغورنې لپاره نړۍ د دودې د ګلوبلايزيشن (Globalization) په پړاو کښې اقتصادی اتحاد دوخت تقاضا ده هيڅ هيواد دګلوبلايزيشن (Globalization) په پړاو کښې خپل اقتصادی مفادات ځان ته ژغورلی نه شی او نورو سره تحاد ته اړ دی د اروپا اتحاد په ۱۹۵۰ کال کښې دمی دمياشتې په نهمه نيټه داقتصادی مفاداتو له خاطره مينځ ته راغی . دفرانسی اولويديز المان د ډبرو سکرو او فولادو توليد سره يوځای شو او ديوې ګډې جرګه کښې د اداري لاندې راوستل شو ددې نوی

تنظيم دروازې نورې اروپائي هيوادونو ته وازې پاتې شوې چې بيا وروسته په ۱۹۵۱ کال ايټاليه ،هاليند ، بلجيم او لوکسمبورګ ( Luxemburg ) په کښې داروپا داقتصاد تنظيم ، داروپا د اتحاد په تنظيم بدل شو نن ورځ د اروپا اتحاد دمخ په غټيدو دی دختيځې اروپا هيوادونه ئې غړی کيږی په پولو کښې کنټرول له منځه تللی او سړی په دې هيڅ نه پوهيږی چې له يوه هيواد څخه بل هيواد اوړی ، يوازې له ليکنو څخه ئې پته لګيږی چې داکوم هيواد دی . دګډو اسعارو (پيسو ، ياني روپو) پريکړه شوې چې دايرو ( Euro) په نامه ياديږی او راتلونکی کال کښې به رواج شی د اروپا لپاره په نوی جوړښت او ديوې اتحادی اروپا په لور په نوی نظم بحثونه کيږی .

DAILY
KHABROONA
PESHAWAR - PAKISTAN
ورځپاڼه
خبرونه
چيف ايډيټر سُهيل شمشاد
ايډيټر محمد اشرف ډار
پېښور پاکستان
☎ 2323553
2322402

ورځپاڼه خبرونه پېښور
خبرونه

حق بالحل سره مه ګډوئ او حق مه پټوئ (القرآن)

DAILY KHABROONA PESHAWAR - PAKISTAN

ورځپاڼه

چیف ایډیټر سُهیل شمشاد

ایډیټر محمد اشرف ډار

پېښور پاکستان

# خبرُونه

☎ 2571251 2571253

| شماره ۶۶ | شنبه (خالی) ۱ نومبر ۲۰۰۳ء کتک ۱۵ بعیه ۴ روپی | جلد ۱ |
|---|---|---|

Daily Khabroona peshawar Saturday 1 November 2003


دپښتو دسرلوړی دپاره — کبير ستوری

# پښتنه جذبه سړه شويده

**ګرده نړۍ کښې دپښتو ژبې ادب دترقۍ دپاره اقدامات روان دی ولې موجوده وخت کښې کافی نه دی ،درستورې ته خطاب**

پېښور (این این ائی) بهرنو هېوادونو کښې د پښتو ژبې او ادب د ترقۍ دپاره کوټلی کوششونه شروع دی خو په ډېر افسوس سره چې د پښتنو جذبه یخه شوې ده. دا خبره د پښتو مشهور شاعر او ادیب کبیر ستوری اکیډمی آف لیټرر کښې کړې ده. د اکیډمی آف لیټرر پېښور ډائریکټر سید ولی خیال مومند کبیر ستوری ته یو خوندوره میلمستیا ورکړه په دې موقع فضل دین خټک لیاقت علی سیماب او پی ټی وی عزیز اعجاز او د پښتو عالمی کانګرس د ارګنائزنګ کمیټۍ غړی هم موجود

پاتې نمبر ۳۱ صفحه ۵

پاتې 31 // کبیر ستوری پښتو

وو په دې موقع په انټرنیټ د پښتو ژبې او ادب ته وړپېښو مسئلو په پښتو ژبه کښې د محاورې او د نوې تخلیقی کاوشونو باندې بحث وشو. په آخره کښې سید ولی خیال مومند د ټولو میلمنو شکره ادا کړه. او د مشر میلمه کبیر ستوری ئې نورو ملګرو سره پیژنګلو وکړه.

ورځپاڼه خبرونه
DAILY KHABROONA
PESHAWAR PAKISTAN
پېښور پاکستان
۱۵جنوري ۲۰۰۴ء

# ژبه د انسان د ژوند په اوږدو کښې اوله برخه

لکه څنګه چې ژبه د انساني نړۍ په تاریخ کښې د زده کړې له لرې ولاړه ده د انسان ژوند د مور په ګېډه کښې پیل کیږي او تر مرګه پورې دوام لري . امریکائي پوهانو د خپلو څېړنو په ترڅ کښې لا د مور په ګېډه کښې دماشوم یو شمیر غلي ګړونه اوریدلی دي او له دې څخه ئې داسې نتیجه اخستې ده چې د انسان زیږیدو څخه د مخه هم د ګړونو یو خاص میخانیزم لري . (salber 1958)

خو دا ددې معنی نه لري چې د مور په ګېډه کښې ماشوم ګڼې خبرې کوي یوازې دا مونږ ته را په ګوته کوي چې د خبرو د توان بنسټ وړ شوې دی چې وروسته بیا وده کولې شي . همدغسې کله چې یو ماشوم په اول ځل پیدا کیږي نو چغه کوي دغه چغه هم دخبرو د توان د بنسټ د جوړیدو معنی لري . سالبر (salber) لیکي چې د " ډېوې" او مارتې له پاره د ژبې جرړې د ټولنیزې اړتیا څخه اوبه اخلي او اردمان (erdmann) همبولډ او لا څاریوس بیا په دې برخه کښې خاص ارزښت د ژبې او نورو ساوالو فعالیتونو او توانونو اړیکو ته ورکوي . (salber 1958)

همدغسې د سټرن له پاره د ژبې بنسټ لومړی ورو ورو ئې د سوچ (فکر) تصور . احساساتو او ارادې د ودې او څرګندولو اله وګرځیده .(stern 1927)

ژبه د ټول (سمت) ساوال (نفسي . روحي) ژوند سره ټینګه تړلې او د ساوال (نفسي. روحي) ژوند په وده کښې کره برخه لري او هم د ساوال ژوند جوړښت او وده په ژبه پورې اغیزه لري او د ژبې څرنګوالي (کیفیت . جنسیت) ټاکي . ژبه او ساوال ژوند یو له بل سره دوه اړخیزه اړیکې لري او یو له بل څخه بیلیدلې نه شي. د ژبې په ډډ او وده سړی سم نه شي پوهیدلې که ئې د نورو ساوالو پیښو او خواکونو څخه په ناپیلی توګه د اشارو یو سیستم وګڼی او یا ئې د ګوښی او خان ګړی توان ننبه لکه د پوهیدلو او پوهولو (مفاهمې اله وبولی .خو هر انسان چې په یوه ټولنه کښې پیدا کیږي خانته ژبه لري او په هره ټولنه کښې چې څوك پیدا شي د همدې ټولنې ژبه دود، دستور او نور کړه وړه خپلوي . دا چې پښتني ټولنه د لویدیزوالو ټولنو سره ډیر توپیر لري نو مونږ د

## ډاکتر کبیر ستوري

څېړنکو د ټولنیز نظریو څخه چې یوازې د لویدیزو ټولنو پورې تړلې نه وي او د پښتني ټولنې له پاره هم اتبار لري او د پوهنیزو لارو او میتودونو څخه کار اخلو او په خپلو څېړنو او کتنو تکیه کوو.

کورنۍ :: کورنۍ د هرې ټولنې کوچنۍ برخه ده . د پښتني ټولمنې کورنۍ د لویدیزوالو ټولنو کورنۍ یو کوله یا یو نسله کورنۍ دا او یوازې د مور، پلار او بچیانو څخه جوړه شوي او کم بچي چې ئې لوی شي هغه پخپله لاره ځي او د مور او پلار څخه بیلیږي د پښتني ټولنې کورنۍ د دوه یا زیاتو کولونو یا نسلونو څخه جوړه شوې ده . چې مور .پلار. نیا . نیکونه . غور نیکونه او تر نیکونه پکښې یو ځائې اوسیږي . دا کورنۍ د کولونو د تړون په بنیاد ولاړه ده کولونه پکښې تر هغې په یوه کور کښې وسیږي تر څو چې تنګ شوي نه وي او کله کور تنګ شوي نو بیا د بیل کور غم خوړل کیږي . دې ډول کورنیو ته ډله ایزې کورنۍ یا غټې کورنۍ ویل کیږي : هره کورنۍ چې د ټولنې یوه برخه ده د ټولنې سره دژبې له لیارې سمون کوي . هر تن د خپلې کورنۍ له لیارې د ټولنیز کیدو په لړۍ کښې برخه لري . په دې توګه ژبه د انسان په ژوند کښې د ټولنې سره د سمون او ټولنیز کیدو په لړۍ کښې مینځ ته راځی . د ژبې زده کړه په هغه کورنۍ کښې په کومه کښې چې ماشوم پیدا شوېې وی پیل کیږي خو دا زده کړه د ماشوم په ساوال او جسماني ودې ولاړه ده . ساواله او جسماني وده یو له بل سره تړلې ده او چاپیریال پرې متقابله اغیزه لري د ساوالو او جسماني توکونو پیدا ایښتی جوړښتونه د چاپیریال د متقابله اغیزې د لاندې د ژوند په مختلفو پړاوونو کښې بشپړ او پخیږي . انسان ژوند په مختلفو پړاوونو کښې مختلفه زده کړه کوی . په دې کښې د ژبې زده کړه هم شامله ده . په پښتني یا غټه کورنۍ کښې د لویدیځ د کوچنۍ کورنۍ په بر خلاف ماشوم د مورلو پلار سربیره د نیا . نیکه او کور د نورو کسانو سره د جسماني او ساوالي ودې په لړ کښې اړیکې پیدا کوي او کوچنۍ کورنۍ په شان نه وي چې یوازې د مور . پلار . خویندو او ورونو سره یې لري.

دلته د کوچنیو کورنیو په شان

ځانګړی اخلاقي "وجدان" زه نه بلکې یو ډول ډله ایز اخلاقي زه یا وجدان وده کوی چې وروسته بیا د ټولنیز ژوند نماینده وی .

د ورځنې ژوند په ډګر کښې څیړنه :ما د ټولې ساوالی او جسماني ودې په نښتون کښې پخپله غټه پښتنه کورنۍ کښې که څه هم بهرنی چاپیریال جرمني دی خپل پیدا شوی لمسیان پوهیال (۳-۱۱-۱۹۹۸) پتوال (۲۲-۷-۱۹۹۹) او سلما (۲۲-۱-۲۰۰۰-) د ژبې د ودې او زده کړې په برخه کښې د منظمې کتنې لاندې ونیول چې سړی ورته د ورځنی ژوند په ډګر کښې څیړنه ویلې شي. د څیړنې په نتیجه کښې د ودې لاندې پړاونه را په ګوته شول .

!::د ملاستې پړاو : دا پړاو له زیږیدلو څخه پیل کیږي او د ماشوم له ملاستې څخه د سر تر جګولو پورې رسیږي په دې پړاو کښې ماشوم ژړا او موسکا کولې شي

Daily Khabroona peshawar Friday17 Octo

حق باطل سره مه ګډوئ او حق مه پټوئ (القرآن)

ورځپانه

DAILY
KHABROONA
PESHAWAR - PAKISTAN

چیف ایډیټر سهیل شمشاد


ایډیټر محمد اشرف دار

پېښور پاکستان

# خبرونه

☎ 2571251
2571253

| شماره ۵۱ | جمعه ۱۷ اکتوبر ۲۰۰۳ء کاتک ۲ بعیه ۴ روپی | جلد ۱ |
|---|---|---|



سلیم سیف الله پېښور پرېس کلب کښې سیمینار ته خطاب کوی

ABC CERTIFIED http://www.dailysubh.com

حق باطل سره مه ګډوئ او حق مه پټوئ (القرآن)

ورځپانه

DAILY KHABROONA PESHAWAR - PAKISTAN

چیف ایډیټر: سُهیل شمشاد

ایډیټر: محمد اشرف ډار

پېښور پاکستان

خبرُونه

☎ 2571251 2571253

Daily Khabroona Peshawar Monday 4 April 2005

| شمارہ 91 | دوشنبه 4 اپریل 2005ء 23 صفر 1384 15 حمل بیعه | جلد 2 |
|---|---|---|

# ډاکټر کبیر ستوري به سبا ګیسټ اور کښې مېلمه وي

## نوموړی دانشور به د پښتو ژبې ادب او کلتور په اړه خبرې کوي

پېښور (این این ای) پښتو ادب نامتو شاعر، ادیب، دانشور او د نفسیاتو ډاکټر کبیر ستوري به په ۱۵ اپریل سحر ۱۱ بجې پېښور پرېس کلب کښې ګیسټ اور پروګرام کښې مېلمه وي. یاده دې وي چې ډاکټر کبیر ستوري د جرمنۍ د پښتو ادبي کنونشن او رحمان بابا د کلیزو دستورو کښې د ګډون لپاره د جرمنۍ څخه راغلی دی

د خبرونه ورځپانه

ABC CERTIFIED http://www.dailysubh.com

حق ووايئ که څه هم تريخ وي (الحديث) حق پټول سره مه ګډوئ او حق مه پټوئ (البقره)

ورځپاڼه

DAILY KHABROONA PESHAWAR - PAKISTAN

چيف ايډيټر: سُهيل شمشاد

ايډيټر: مُحمّد اشرف ډار

پېښور پاکستان

خبرُونه

2571251
2571253

Daily Khabroona Peshawar Thursday 24 March 2005

| جلد 2 | پنجشنبه 24 مارچ 2005ء 12 صفر 1384 4 حمل بيعه | شماره 80 |
|---|---|---|

# ډاکټر کبير ستورے پيښور ته راورسيد

## نوموړے اديب او شاعر به پښتو عالمی کنونشن او د رحمان بابا سيمينار کښې ګډون کوی

پيښور (خبرونه خبر) ډاکټر کبير ستورے جرمنی نه پيښور ته راورسيدو، نوموړے به پيښور کښې دپښتو ژبې دادبی نړيوال کنونشن، دمحمد افضل خان لالا دکتاب دمخ کتنې په دستوره او درحمان بابا په ياد کښې سيمينار او مشاعره کښې ګډون کوی. له دې سربېره نوموړے به

پاتې نمبر ۳۸ صفحه ۵

پاتې 38 • ډاکټر کبير

دپښتو ژبې شاعرانو، اديبانو او پښتومشرانو سره هم ليدل کتل کوی. نوموړے خپله هم يوښه ليکوال، شاعر، او دپښتون سوشل ډيموکريتک ګوند مشر دے، او نوموړی ډير کتابونه په پښتو ژبه کښې ليکلی دی، او دپښتو ژبې خدمت ته ئې مرکه پورې ملا تړلې ده دنوموړی دادبی ژوند لمن ډيره فراخه ده

ABC CERTIFIED http://www.dailysubh.com

حق باطل سره مه ګډوئ او حق مه پټوئ (القرآن)

ورځپاڼه

DAILY KHABROONA PESHAWAR - PAKISTAN

چيف ايډيټر سهيل شمشاد

ايډيټر محمد اشرف ډار

پېښور پاکستان

خبرونه

2571251 2571253

Daily Khabroona Peshawar Wednesday 6 April 2005

جلد 2 | چارشنبه 6 اپريل 2005ء 26 صفر 1426ھ 17حمل | شماره 93

ورځپاڼه خبرونه پېښور صفحه (5) 6 اپريل 2005ء

# د پاکستان او افغانستان پښتانه دې يو موټی شي، کبير ستورے

## د پاکستان، افغانستان او ترکمانستان مفادات يو دي، بايد چې دا هيوادونه تجارتي اړيکې مضبوطې کړي

پېښور (اې اين پي) د جرمنۍ نه د پاکستان په دوره راغلي د پښتو شاعر اديب او مصنف ډاکټر کبير ستوري وئيلي دي چې په موجوده حالاتو کښې د افغانستان او د پاکستان د پښتنو اتحاد او اتفاق د دوی سلامتيا لپاره ډير زيات ضرور دے په پېښور پريس کلب کښې په ګيسټ اور پروګرام کښې خبرېالانو ته د خبرو اترو په وخت دده وويل چې د پاکستان د افغانستان او د ترکمنستان حکومتونه او اوس دې په سياسي په تجارتي او په نورو معاملو کښې يو بل سره کومک وکړي ولې چې د دې درې واړو هيوادونو مفادات يو شان دي دده وويل چې په افغانستان او پاکستان کښې پښتانه د نړۍ يو طاقت هم نه شي بېلولې ولې چې د دواړو هيوادونو پښتانه يو قام دي



ډاکټر کبير ستورے

ABC CERTIFIED http://www.dailysubh.com

حق ځل سره په کړوئ او حق مه پټوئ (القرآن)

DAILY KHABROONA PESHAWAR - PAKISTAN

ورځپانه خبرونه

پېښور پاکستان

چیف ایډیټر سهیل شمشاد

ایډیټر محمد اشرف ډار

2571251 2571253

Daily Khabroona Peshawar Tuesday 29 March 2005

| | | |
|---|---|---|
| جلد 2 | سه شنبه 29 مارچ 2005، 17 صفر 1384 9 حمل بیعه | شماره 85 |

ورځپانه خبرونه پېښور صفحه (5) 29 مارچ 2005ء

# مورنۍ ژبه کښې لیک لوست د پښتنو حق دے، کبیر ستورے

## نړیوال کنونشن به د پښتو دودې لپاره کوټلے کردار ادا کړي

## د خان لالا د کتاب د مخ کتنې او رحمان ادبي سیمنار کښې ګډون مالپاره د فخر وړدے

پېښور (سراج عارف) د پښتو ژبې نوموړی شاعر، ادیب، لیکوال او د نفسیاتو ماهر ډاکټر کبیر ستوری په نشترهال پېښور کښې په عالمي پښتو ادبي کنونشن په کامیابۍ سرته رسېدلو سره د دغه غونډې منتظیمنو او جوړونکو او په خاصه توګه سلیم بنګش او امیر ګل ته مبارکي وونیله او داسې غونډې جوړول ئې د پښتو ژبې او ادب د ودې او پرمختګ دپاره ډېرې اغیزمنې وبللې. ډاکټر کبیر ستوری د خپلو خبرو په جریان کښې ووئیل چې لیکل او لوستل په مورنۍ ژبه (پښتو) د هر پښتون بنیادي حق دے باید د ښوونځی (سکول) د لومړي ټولګي څخه تر پایه پورې هر پښتون ته په خپله مورنۍ ژبه حق ورکړل شي. ترڅو هر پښتون ورکولے شي په ننني پرمخ تللي او



ډاکټر کبیر ستورے

کمپیوټري دور کښې د نړۍ د نورو اولسونو سره سیال شي. ډاکټر کبیر ستوری به د عالمي پښتو ادبي کنونشن سربېره د محمد افضل خان لالا د کتاب په مخ کتنه او د رحمن بابا ادبي سیمینار او نورو ادبي غونډو کښې به هم ګډون وکړي. د یادونې وړ ده چې د پښتو ادبي نړیوال کنونشن د دویمې ورځې د دویم نشست صدارت په غاړه درلود او د کنونشن له خوا ورته د پښتو ادب ته د خدمت ایوارډ هم ورکړے شو. دد د کنونشن د ګډون کوونکو څخه وغوښتل چې د پاس شوی قراردونو په عملي کولو کښې د پښتو ادبي چمن تل سره پوره پوره مرسته وکړي. نړیوال پښتو ادبي کنونشن به د پښتو ژبې او ادب د ودې او پرمختګ دپاره مثبتې او ښې نتیجې منځ ته راوړي

ورځپانه خبرونه پېښور صفحه (2) 29 مارچ 2005ء

راتلونکي وخت کښې

# په پښتنو سخت ازمېښت را روان دے

اجمل خټک

## دملي وحدت دپاره دجدا جدا بيرغونو ضرورت نه بلکې دجرګو او اتحاد ضرورت دے مذاکرې ته خطاب

پېښور (این این آئی) د عوامي نيشنل پارټۍ مرکزي مشر اجمل خټك وئيلي دي چې په مستقبل کښې په پښتنو د يو غټ اژدها په حيث مصيبت راتلونکے دے. چې پښتنو له د دې احساس پکار دے او د دې د مخ نيوی لپاره ملي يوالي او اتفاق له توجو ورکول پکار دی. دا خبرې ده د پښتونخوا قامي پارټۍ د سيوری لاندې د ډيورنډ لاين په خط دوه ورځني قامي سيمينار ته دخطاب کولو په وخت کړيدی. سيمينار کښې د پاکستان او افغانستان قام پرست مشرانو او کارکنانو په ګڼ شمېر کښې ګډون وکړو. په دې موقعه د پښتونخوا قامي ګوند مرکزي مشر افضل خان لالا د جئے سندھ مرکزي مشر جلال محمود شاه، د کيمونسټ مزدور کسان پارټۍ مشر افضل خاموش، د قامي محاذ مشر ايم اے بهټو، طاهر اچکزئ، زبيده افراسياب، ډاکټر فضل الرحيم، شمس الهدی شمس، عبدالطيف افريدی، شميم قيصر او نورو مشرانو تقريرونه وکړل. غونډه کښې حاجي غلام احمد بلور، فريد طوفان، رحيم داد خان، ميا افتخار حسين هم موجود ؤ. اجمل خټك ووئيل چې د وحدت لپاره د جدا جدا بيرغونو ضرورت نشته دے بلکې د جرګو د اتحاد ضرورت دے. چې دغه راز به حقيقت کښې د پښتنو وحدت قائم شی. ده ووئيل چې د قام پېژندګلو په کربنو نه بلکې په جغرافيائي ثقافتي او لساني بنياد کيږی. کربنې که هر څومره جوړې کړے شی خو يو قام جدا کولے شی. ځکه چې وطن په قام آباد وی او قام په وطن آباد وی.


حق باطل سره مه ګډوئ او حق مه پټوئ (القرآن)

ورځپاڼه

DAILY KHABROONA PESHAWAR - PAKISTAN

چيف ايډيټر سهيل شمشاد

ايډيټر محمد اشرف ډار

پېښور پاکستان

خبرونه

2571251
2571253

چيف ايډيټر: پبلشر سهيل شمشاد ،ايډيټر محمد اشرف ډار پرنټر ،شمشاد احمد د پېښور ارټ پريس 5FA سمال انډسټريل اسټيټ کوهاټ روډ پېښور نه چاپ کړو او دورځپاڼې خبرونه دفتر نشتر اباد نه ئې خپور کړو

subh@pes.comsats.net<ph2571251-2571253-Fax;2566086

پنج شنبه (زيارت) ۱۶ اکتوبر 2003